## الدرس الثاني
## توحيد الألوهية

## دوهم الدرس
## توحيد الألوهية

د عبادت ټول قسمونه يواځې د الله تعالي دپاره کول پدي شان چي يو انسان د الله پاک سره په عبادت کښې هيڅ څوک شريک نکړی او نه غير الله ته نزديکت حاصل کړی ، د توحيد دا قسم د ټولونه آهم او لوئي دی ، د همدي مقصد دپاره الله پاک دا ټول مخلوق پيداء کړي دي لکه څرنګه چي الله پاک فرمائي :

«وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ»{**الذاريات:٥٦**} ترجمه : او نه دی پيداءکړی ما پيريان او انسانان مګر دی دپاره چي زما عبادت وکړی ، ټول رسولان الله پاک دی دپاره راليږلی دی ، او کتابونه ئې دی دپاره نازل کړی دي ، الله پاک فرمائي:

«وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ» {الأنبياء:٢٥} ترجمه: او نه دی راليږلي مونږه مخکښې ستانه هيڅ يو رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته چی يقيناً نشته حقدار د بندګۍ سيواء زما نه پس بندګی خاص کړی ماله ، دا هغه قسم د توحيد **دی** چی کله رسولانو ددی دعوت مشرکانو ته ورکړو نو هغوی انکار وکړو، دهغوی وينا الله پاک پدی الفاظو رانقل کوی : «قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ» {الأعراف:٧٠} ترجمه : اووئيل دوی آيا راغلی ئې ته مونږه **ته** دی دپاره چی مونږ بندګی اوکړو ديو الله ، او پريږدو هغه کسان چی بندګی ئې کوله مشرانو زمونږ ، دغير الله دپاره هيڅ قسم عبادت کول جائز ندی ، نه د يو نزدی کړی شوی ملائک دپاره ، او نه ديو عزتمند نبي راليږلی شوي دپاره ، او نه دبل يو نيک ولی دپاره، ځکه چی عبادت د هيڅ يو مخلوق جائز نه دی، بلکه عبادت صرف او صرف الله پاک پوری خاص دی.